# لوئي ,,رهبر،،
# او لوړ ,,اديب،،

ډاکټر شيرزمان سيماب

د برصغير د آزادۍ په تحريک کښې د پښتونخوا په خاوره د خدائي خدمتګار د سياسي هلو ځلو نه انکار نه شي کېدے. دغه تحريک په دې سيمه کښې په وړومبي ځل د يو سياسي او سماجي سوچ دپاره ګامونه پورته کړل او پښتون اولس ئې د قام په حيث په يو مرکز د راغونډولو دپاره په يوه تنظيمي ډهانچه کښې واچولو. او دا خبره هم لکه د نمر ځلنده ده چې د دغه تحريک په شا د شلمې صدۍ د لوئي پښتون سياسي مبارز فخرافغان ستر فکر موجود ؤ.

فخر افغان باچاخان د پښتون قام په يو مرکز د راغونډولو او د برصغير د آزادۍ دپاره د چمتو کولو په غرض د اوږد سوچ نه پس په هر اړخ کار وکړو. د تنظيم سازۍ سره ئې ځان ته خپل مقاصد مخې ته کېښودل چې په هغې ئې ټول ملګري خدائي خدمتګار متفق کړل.

د باچاخان په دغه تحريک کښې که يو طرف ته قام په سياسي توګه باشعوره کول غرض ؤ نو بل طرف ته ئې په قام کښې د سماجي شعور دپاره هم کوټلي بنيادونه کېښودل. هر کله چې د پښتون قام په کلتور کښې يو پوخ سماجي بنسټ درلود ولې په منظم ډول دغه طرف ته چا هڅې نه کولې. عزيز ولي،ورورولي،غم ښادي او کليوالي هر څه سره د پښتون قام شريک ؤ. او د پخوا نه دا سلسله را روانه وه چې د اشر او غوبل دپاره به هم د يو بل په کار راتلل. او دغه جذبه د پښتنو په ژوند کښې تر دې دمه موجود هم ده. ولې په منظم ډول باچاخان يو سماجي فکر ورکړو. په دغه لړ کښې ئې مدرسې جوړې کړې چې پښتنو بچو ته ويړيا تعليم ورکړي او د نرۍ د پرمختګ په زغل کښې ملګري شي. داسې د صنعت ګرۍ دپاره او د تجارت دپاره ئې هم په اولس کښې شعور بېدار کړو. او په دې چې قام ته ځان بد ښکارېدو. باچاخان او د هغه ملګرو په خپله پېل وکړو. د باچاخان د تحريک دغه اړخونه د چا نه پټ نۀ دي او دا نن چې څومره سياسي او سماجي شعور موجود دے نو رښتيا خبره دا ده چې د خدائي خدمتګار تحريک پکښې پوره پوره لاس دے.

د خدائي خدمتګار تحريک او فخرافغان باچاخان په دغه هلو ځلو کښې چې يوه اهمه کارنامه ګڼلے شي. هغه د دغه تحريک د خپلې ژبې او ادب طرف ته توجه ورکول وو. په وړومبي ځل چې پښتون قام په يو تنظيم کښې واچولے شو او دغه تنظيم خپل اغراض او مقاصد په ليکلي ډول مخې ته راوړل نو دا پکښې شامل وو چې د تنظيم ټوله کاروائي او خط و کتابت به په پښتو

کښې وي. بیا چې تنظیم خپلې هلې ځلې پېل کړې نو د خپلو مدرسو په کلیزو غونډو کښې ئې سټېج ډرامې وړاندې کړې کومې چې د پښتو ژبې او ادب دپاره یو انقلابي قدم ؤ. چې دې سره د



ډرامې پښتانه لیکوال هم پېدا شول او پښتانه فنکاران هم. د کلیزو غونډو په دغه موقعه به د مشاعرو اهتمام هم کېدو چې د روایتي شاعرۍ په ځائې پکښې خصوصي طور سره د قامي غورځنګ رنګ رابرڅېره شو. او په باقاعده طور پکښې طرحې کېښودې شوې او په هغې شاعرانو ته د طبع ازمائۍ موقعه ورکړے شوه. داسې باچاخان خپلو ملګرو ته په کلکه دا وینا هم کوله چې لیکل وکړئ او د هغې دپاره ئې پښتون مجله جاري کړه چې پښتو ژبه او ادب پکښې وده وکړي.

دا د دغه تحریک اثر ؤ چې د شلمې صدۍ لوئې او ستر لیکوال هم د دغه تحریک په سیوري وروزلے شول او ژبې او ادب ته پېش بها ملغلرې په لاس ورغلې. دا هم د دغه تحریک اثر ؤ چې د



باچاخان په خپل کور کښې د شلمې صدۍ لوئې نابغه لیکوال او جدید شاعر غني خان د پښتو ادب د اوربل داسې ګل شو چې خپلې خوشبوګانې ئې په ټوله پښتنه سیمه خورې کړې. او په خپل جدید نظم ئې د پښتو ادب په مېدان کښې یوه منفرده اضافه وکړه. ولې د باچاخان دویم ځوی د پښتنو د ملي سیاست نه هېرېدونکے شخصیت دے او په قامي او بین الاقوامي سیاست د خپل ځانګړي نظر په حواله شهرت لري.

خان عبدالولي خان هم د پښتو ژبې یوازې ادیب او لیکوال څه چې د یو دانشور او

مـورخ پـه حيـث وځـلېدو. د هندوستان د تاريخ او هـغـه وخـت د نړيوال صورتحال په حواله د هغوي نظر زمونږ په وړاندې د هغوي په کتاب ,, باچاخان او خـدائـي خدمتگاري،، کښې مونږ تر نظره کولے شـو. پـه دغه حالاتو تبصره ياد د دغه دور د حالاتو تـجـزيـه کښې هـم د ولـي خان د سياسي نظر راڼه تـصـويـرونـه پـه نظر راځي. ولې هر کله چې خان عبدالولي خان د يو لوئې سياسي مبارز په حواله د شهـرت پــه بـام ولاړ دے او د هـر چـا د سـتـرگو د وړانـدې دے. بـايد د خپلو دغه ليکونو په حواله د يـو اديـب او ليـکـوال پــه حيث هم مقبول شي. دا خبـره به په خپل ځائې وي چې د هغه د لوړ او ستر سياسي شخصيت په شا شايد ادبي حيثيت کم وي ولې سـنـجـول ئې ضروري دي او زۀ گنم چې ولي خان د اديب په حيث هم دغه هومره قد او شخصيت لـري. څـومـره چې ئې د سيـاسـت پـه مېدان کښې دے. پـه دې چې د هغوي د سياسي بصيرت نه زده کړه اوس د هـغـوي د دغه ليکلي کتابونو نه کېدے شـي. او چې څـومره هم دا نړۍ وي د دغه کتابونو نـه بـه د سياست،تاريخ او ادب طالبعلمان استفاده کـوي. د ولـي خـان د دغـه ليـکـونو ژبه ډېره ساده روانـه او سـليـسـه ده. د سـوچـه محاورې،متل او روزمـرې برمحل استعمال ئې پکښې راوړے دے او خپل قاري ئې د خپل مقصد تل ته رسولے دے.

ولـي خان چې يو لوئې سياستدان ياد دے او د هـغـــه د تـقـريـر انـداز او اسـلـوب ډېـر زړۀ راښـکـونـکـے ؤ کـه په گېنټو گېنټو تقرير به ئې کـولـو خو خپـل اورېدونکي به ئې د خپل تقرير په سـحـر کښې تر اخره ساتل که به سور نمر ؤ او که يـخـه يخني خو اورېدونکي ناست خلق به په پوره تـوجـه سـره تـر اخره پورې د دوي ويناوې ته غوږ غـوږ وو. د هـغـوي د تـقرير د جملو ترتيب سوچه سـوچه د پښتو ټکي،متلونه،محاورې او د موقعې سره ټېپې راوړل په دې خبره دليل ؤ چې ولي خان د خپـلې ژبې پـه هـر اړخ ښه پوهه ؤ او د دې نه دا هم جوتېږي چې اروابښاد د ادب ډېره مطالعه لرله ځکه ئې پـه وينا کښې په پوره توگه فصاحت او بلاغت موجود ؤ.

دغـه د ولـي خان د ليکلو هم انداز ؤ که په خـط کښې ئې د جېـل خبـرې ليکلې دي نو هم په ادبـي رنگ او خوند ئې ليکلي دي. که د کور کلي پـوښتـنـه ئې کړې ده نـو هم ادبي پيرايه ئې خپله کړې ده. خـط ئې تـش خـط نه دے ليکلے بلکې د ولي خان خطونه د انشاء ډېرې اعلی نمونې دي چې زمـونږ د يـوې زمـــانې تـــاريـخ او ادب پکښې هم موجود دے.

د ماسټر کريم د جنازې حال چې بيانوي نو کـه يـو خـوا پـه لـفـظـونو کښې د دغه غم تصوير جوړوي نو بل طرف ته قاري په سرو سترگو ژړوي ولې دا سـتـر رهبـر پـه دې صبر نه کوي بلکې د يو قـامـي مشـر په حيث خپله قامي خبره هم وړاندې کوي. او هغه دا چې ,,مـاسټـر چرته په قامي کار پسې تـلـے دے را به شي،، دلته د نمونې په توگه دا پېـراگـراف لوستونکو ته وړاندې کوم، کوم چې د

دې لوئي رهبر لوړ ادبي مقام په ګوته کوي.

موتے خاورې څنګه پټ د حُسن لوئې جهان کړي
يـو پـوکے د باد ټول چمن څنګه بيابان کړي

غني خان

بـاور مې نه شي چې کريم مړ دے او زما د عمرونو هـغه ترون زما په پښو کښې شلېدلے ځانګي. اګر چې د نـاروغتيا د اولې ورځې نه هغه ما سره ؤ او د رنځ دا درې واړه کاله هغه زمونږ سره په شاهي باغ کښې وويستـل. ما سپوا د دې اخري دوه دوه نيمو ميـاشتـو نـه چې هـغـه په ډاډر او پېښور هسـپتال کښې ؤ. ښه مې ور ته کتل چې هغه غټ پټ،سور سپيـن او لـوبـغاړے ځوان ورو ورو ويلي کېدو او بيا:

زۀ په کمره ور ته ولاړ ؤم
د جانان سپين مخ ئې قبلې ته ګرځونه

مـا کتـل چې بـاچـاخان د خپله لاسه هغه بکس ته کـوز کړو. پـه خپـلـه ئې وسپارلو او ما ليدل چې خـاورې ئې پـرې اړولې. په هغه کچه قبر مې هغه بې شـمېـره نـرګـس وليدل چې زما په شان د نورو ډېـرو خلقو سره د هغوي سترګې هم د اوښکو ډکې وې. خـو زۀ وايـم دا خـوب دے. مـاسټر چرتـه پـه قـامـي کار پسې تلے دے را به شي. ولې چې راياد شي نو زړۀ مې ټق وچوي.

خـله مې نه جوړېږي چې ظالم ووايم رحمان ته
مرګ چې د جهان بادشاه کړم څه ووايم ځان ته

پـه دې نثر ټوټه کښې مونږ د خان عبدالولي خان د نثر نګارۍ اعلی او ارفع رنګ او انداز لېدے شو. داسې د ولـي خان په خطونو کښې هم د نثرنګارۍ د فـن هـغـه سرۀ ښکاري کوم چې د يو لوړ اديب او ليکوال د قلم نه تخليق کېږي.

,,خبره په خبره پورې تړلې وي. د نسرين خـط ليکل او د اسفنديار ,,بابا،، ,,بابا،، وئيل ما تـه يـوه ډالۍ ده او زۀ پـه ځـان کښې د دغه ډالۍ د قبـلولو اهليت نه وينم. دا خړوبه او اوبۀ خور هم د هـغې چيـنـې نـه زما په کر کيله راسم دے. کومې چيـنـې چې ټـول عـمـري ژوند دا باړۍ زرغونـه او شـنـه کړې ده. زړۀ مې اوبـوږنېږي او غـونـے مې زيګ شـي چې دې اړخ تـه مې فکر لاړ شي. او بيا دا کـه دغـه کـور نـه وي نـو څه به وو. د شاهي باغ وداني خو ټوله تاسو سره ده.،،

(د خـان عبدالولي خان خطونه د جهانزيب نياز په نوم سوغات ص۹۱)

داسې د ولـي خـان ټـول ليـکونـه د پښتو نثـري ادب دپـاره يوه درنه سرمايه ده چې زمونږ د تـاريخ،کلتور او سماجي ژوند عکسونه پکښې په نـظـر راځي. دغه ليکونه که يو خوا د سياسياتو د طـالبـعـلـمـانـو دپاره د مطالعې وړ دي نو د ادب د طالبعلمانو دپاره هم د اهميت جوګه ده. بايد د ولي خـان د ادبـي کـار په حواله پوره پوره کار وشي په دې چې دا لـوئې رهبـر د يـو لږ اديـب پـه حيث هم پېـژنـدل د وخـت سـره سـره د پښتو ادب هم لوئې ضرورت دے.